۶ مارچ ۲۰۲۴

United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړې استازې روزا اتونبایوا وینا**

**د ۲۰۲۴ کال د مارچ ۶، نیویارک**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

ښاغلی رئیس،

د امنیت شورا ۲۷۲۱ ګڼه پرېکړه لیک له واکمنو چارواکو سره د نړیوالې ټولنې د تعامل لپاره یو واضح هدف بیانوي. وروستی وضعیت دا دی چې افغانستان له خپل ځان او له خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې وي، په بشپړه توګه په نړیواله ټولنه کې مدغم شوی او خپل نړیوال مکلفیتونه پوره کړي چې پکې د افغان مېرمنو د بشپړ ګډون تضمینول شامل دي. همدارنګه دا هغه هدف دی چې د ترلاسه کولو په موخه یې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) - د ۲۰۲۲ کال په مارچ کې د سیاسي تعامل لپاره د یو ماموریت له ورسپارل کېدو  راهیسې - په افغانستان کې خپل فعالیتونه ترسره کړي دي.

غواړم له سرمنشي څخه د روان کال د فبروري په ۱۸ او ۱۹ نېټه په دوحه کې د ځانګړو استازو د دویمې غونډې جوړولو له امله مننه وکړم. سره له دې چې واکمنو چارواکو په یاده غونډه کې د نه ګډون پرېکړه وکړه، یاده غونډه د لاندې لاملونو له کبله خورا مهمه وه: لومړی دا چې، په دې غونډه کې د دوامداره تعامل د اړتیا په هکله د تېر کال د مې په میاشت کې د دوحې په لومړۍ غونډه کې رامنځته شوې نړیواله اجماع بیا تکرار کړه. دویم، د نړیوالې ټولنې کلیدي همکارو شریکانو سره یې د ځانګړې همغږې کوونکې د خپلواکې ارزونې پر بنسټ د مخکې تګ د لارې په څرګندولو کې مرسته وکړه. دریم دا چې، په دې غونډه کې دا ډاډ رامنځته شو چې د افغانانو اړتیاوې د نړیوالې اجنډا په سر کې پاتې شي او د نړیوالې ټولنې لپاره د یو دوامداره میکانیزم په توګه یې د ځانګړو استازو دا ډله رامنځته کړه چې باید په دوامداره توګه غونډې وکړي، ترڅو په ۲۷۲۱ ګڼه پرېکړه لیک کې د بیان شوي وروستي هدف ترلاسه کولو لپاره کار وکړي. او پنځم دا چې، په دې غونډه کې په افغانستان کې د بشر حقونو، د ټولګډونه حکومت نشتون او دا چې افغانستان باید ګاونډیو او نورو هېوادونو ته خطر ونه اوسي، په هکله د نړیوالې ټولنې موجوده اندیښنو باندې بیا ځلې ټینګار وشو.

غواړم د قطر له حکومت څخه د دویم ځل لپاره د دې غونډې د سخاوتمندانه کوربتوب، آسانتیاوو برابرولو او لوژستیکي ترتیباتو د برابرو په پار مننه وکړم.

دا په یو کال کې دویم ځل دی چې سرمنشي د خپل بوخت مهالویش څخه دوه ورځې د افغانستان په اړه د غونډې مشري کولو ته ځانګړې کوي، چې د افغانستان د خلکو او په ځانګړې توګه د افغان مېرمنو لپاره یو مهم خبر دی، او دا په ډاګه کوي چې د دوی اړتیاوې او حقونه له یاده نه ویستل کېږي. مونږ په حقیقت کې د ښځو نړیوالې ورځې ته یوازې دوه ورځې پاتې دي، او دا په ګوته کوي چې سږ کال پر مېرمنو پانګونې ته اړتیا لیدل کېږي. هر هغه څه چې مونږ یې په افغانستان کې ګورو، له شک پرته برعکس دي: په قصدي توګه د پانګې ضایع کول دي چې دا بې رحمې ده او پایښت هم نلري. د ښځو د زده کړې او کار له حق څخه انکار او د عامه ژوند له زیاتو اړخونو د ښځو لرې کولو د دوی رواني او فزیکي روغتیا او معیشتونو ته ستر زیان اړولی دی. په دې وروستیو کې د اسلامي حجاب څخه د سرغړونو په تور په خپل سري توګه د دوی توقیف کول د بشري حقونو څخه یوه بله سرغړونه وه، چې د مېرمنو او نجونو لپاره ستره بدنامي ده. همدارنګه دې کار پر زیات شمېر ښځینه وګړو باندې ویروونکې اغېزه کړې، چې له امله ډېری مېرمنې په عامه ځایونو کې له ګرځېدو څخه ډار لري. غواړم له دې فرصت څخه په ګټې پر واکمنو چارواکو باندې غږ وکړم ترڅو دغه بندیزونه لرې کړي، ځکه هر څومره چې دا بندیزونه دوام مومي، په هماغه اندازه زیان اړوي. له امنیت شورا او همدارنګه نړیوالې ټولنې څخه د خپل یووالي ساتلو او پر دې بحران د تمرکز له کبله مننه کوم.

د دوحې په لومړۍ غونډه کې د رامنځته شوي اجماع یوه مهمه برخه له واکمنو چارواکو سره د سلا مشورو دوامداره ساتلو اړتیا وه. له دغې غونډې وروسته ما له دوی سره بحثونه وکړل او دوی واضح کړه چې د نه ګډون پرېکړه یې د نړیوالې ټولنې سره په تعامل کې د دوی د شوې غوښتنې د رد په مانا نده، بلکې د دې اندېښنې ښرګندول و چې د افغانستان په هکله بحثونو کې د بشپړ شریک په توګه نه ګڼل کېږي. مونږ به خپلې ټولې هڅې وکړو ترڅو د دې اجلاس په راتلونکې غونډه کې دوی ګډون ته وهڅوو.

واکمنو چارواکو د لا زیاتو سلا مشورو اړتیا په هکله په دوحه کې د سرمنشي له څرګندونو هرکلی وکړ، خو ټینګار یې وکړ چې سلا مشورې باید ریښتینې وي او یوازې دا نه وي چې نړیواله ټولنه پکې خپلې پرېکړې به له دوی سره شریکوي.

ښاغلی رئیس،

خپلواکه ارزونه د خپلو نړیوالو مکلفیتونو او ژمنتیاوو په منلو سره په نړیوال سیستم کې د افغانستان د بشپړ ادغام غوښتنه کوي، چې د دې کار لپاره د اړتیا په هکله ټولو واکمنو چارواکو ته قناعت ورکړل شوی نه دی. که څه هم، زیات شمېر یې په دې پوهېږي چې افغانستان د خپلواکې ارزونې د وړاندیزونو د بشپړ تطبیق څخه د ګټې اخیستنې لپاره چمتو دی.

زه ټینګار کوم چې د بیا ادغام په شرایطو کې د افغانانو توقعات او په ځانګړې توګه د مېرمنو او نجونو حقونو ته درناوی، د توکمیزو او مذهبي اقلیتونو حقونه او سترو اقتصادي فرصتونو ته اړتیا په څرګنده توګه په پام کې ونیول شي.

زه د یو شمېر هغو منفي بهیرونو په اړه اندیښنه لرم چې په مونږ په دې وروستیو کې لیدلي دي او ځینې یې په بشپړو جزئیاتو سره د سرمنشي په راپور کې هم ذکر شوي دي. د یوناما لخوا پراخه څارنې او د بشري حقونو په برخه کې عدالت غوښتنې د مدني، کلتوري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو حقونو څخه انکار، پر مېرمنو او نجونو د فشار او ربړونې مستندې پالیسۍ او کړنې، په عام محضر کې تاوتریخوالی لکه جسمي او د مرګ سزاګانې، د ټولګډونه حکومت نشتون او د اقلیتونو حاشیې ته کول په ګوته کړي دي. دا حقیقت دی چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د میلیونونو خلکو په ورځني امنیت کې ښه والی راغلی، خو خلکو ته په ګرانه بیه تمام شوی دی.

هر هغه کړنې او مرستې چې د جمهوري نظام له پاشل کېدو وروسته د نړیوالې ټولنې لخوا افغانانو سره ترسره شوې دي، د یادولو وړ دي.

- مالي تمویلوونکو (ډونرانو) د بشردوستانه اړتیاوو او د اساسي بشري خدمتونو لپاره شاوخوا ۸ میلیارده ډالره مرسته کړې چې یادې مرستې ۳۲ میلیونه افغانانو ته رسېدلي دي او په دې توګه دوی کافي خواړه او اوبه، کافي سرپناه او د عاید لاسته راوړلو فرصتونه درلودلي دي.
- تمویلوونکو همدا راز له ځینو بیړنیو حالاتو لکه په ۲۰۲۲ کال کې په پکتیکا کې زلزلې او په ۲۰۲۳ کال کې په هرات کې د زلزلې سره چې له امله یې په سلګونه زره خلک په مستقیمه توګه اغېزمن شول، مبارزه کړې ده. له پاکستان څخه راستانه شوو له پنځه سوه زرو (۵۰۰۰۰۰) څخه زیاتو افغانانو سره مرسته شوې ترڅو خپل ژوند له سره پیل کړي، چې نړیوالې ټولنې په دې برخه کې له واکمنو چارواکو سره په ګډه له یادو پېښو سره د مبارزې یوې ګټورې ستراتیژۍ په تطبیق کې مرسته کوي.
- نړیوالې ټولنې د لومړنۍ طبي درملنې او مرستو په دوام کې مرسته کړې ده. د ۲۰۲۲ کال د مۍ میاشتې راهیسې تمویلوونکو په ګډه مرسته کې د نړیوال بانک له لارې ۷.۵ میلیونه خلکو ته روغتیایي او د تغذیې خدمتونه وړاندې کړې دي.
- د دغو حیاتي بشردوستانه چارو د ملاتړ په موخه د ملګرو ملتونو لخوا د نغدو پیسو د کڅوړو انتقال دوام لري. دا کڅوړې غیر مستقیمې اغېزې لري او محلي اقتصاد ته نغدینګي تزریق کوي، چې په د خصوصي سکتور د کړنو په دوام کې ستره ونډه لري او د مالي بحران مخه یې نیولې ده. همدارنګه د بانکنوټونو د چاپ او لېږد په برخه کې مرستې نغدینګي زیاته کړې او افغانۍ یې پیاوړې کړې ده.
- امنیت شورا د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر په میاشت کې ۲۶۱۵ ګڼه پرېکړه لیک –'بشردوستانه استثناء' - تصویب کړ چې له مخې یې پرېکړه وشوه چې' بشردوستانه مرستې او نورې هغه کړنې چې په افغانستان کې اساسي بشري اړتیاوې پوره کوي' د هغو مالي بندیزونو څخه سرغړونه نه ده، چې د ۱۹۸۸ کال د بندیزونو په رژیم کې ټاکل شوي دي. له دغې پرېکړې وروسته د ټولو پورته ذکر شوو مواردو ترسره کېدو ته لاره هواره شوه.
- یو شمېر هېوادونو په کابل کې خپل دیپلوماتیک حضور ساتلی دی او په منظمه او دوامداره توګه له واکمنو چارواکو سره په بیلابیلو برخو لکه اقتصادي مسایلو، سوداګرۍ او بانکونې پراختیا کې تعامل او ګډ کار کوي.
- د نړیوال بانک بورد د افغانستان لپاره د فبروري په ۱۵ نېټه یوه تعدیل شوې کړنلاره تصویب کړې، چې د اساسي اړتیاوو لپاره د لا زیاتې بودجې بیلولو او د برېښنا د لېږد یوې مهمې سیمه ایزې پروژې بیا پیل ته لاره پرانیزي.

ښاغلی رئیس،

افغانستان له لسیزو راهیسې د نړیوالې ټولنې لپاره یوه ننګونه او د بې ثباتۍ، نورې نړۍ ته د ترهګرۍ د لېږد او د نړۍ د ۸۵ سلنه تریاکو د تولید منبع ده، ګاونډیو هېوادونو ته کډوالو شوو میلیونو کډوالو کور دی او میلیونونه نورو بیا د خپلو زامنو او لورګانو د زده کړې لپاره له هېواده لرې په نورو ځایونو کې میشت کېدل غوره کړي دي. اوسنی نسبي امنیت او د واکمنو چارواکو لخوا د کوکنارو د کښت راکمولو لپاره د پام وړ هڅې او داعش پر وړاندې مبارزه باید وستایل شي. خو که چېرې هغه ستونزې چې ما مخکې یادونه وکړه حل نشي، د اوږدمهاله ثبات راوستلو لپاره دغه لاسته راوړنې کفایت نه کوي.

په سیمه کې او له سیمې بهر په افغانستان کې د ترهګریزو ډلو د شتون په هکله بنسټیزې اندیښنې شتون لري، چې یادې اندیښنې د بندیزونو د څار ټیمونو په راپورونو کې په واضح ډول بیان شوي دي. یوازې داعش یو ګواښ نه دی، بلکې د پاکستاني طالبانو تحریک یا TTP هم د پاکستان لپاره یوه ستره اندیښنه ده چې په ترهګریزو فعالیتونو کې یې زیاتوالی تر سترګو کېږي.

د مخکې تګ لاره کومه ده؟ د ځانګړي استازي د ټاکلو په هکله تر سلا مشورو پورې به یوناما خپل ماموریت پر مخ بیایي ترڅو د خپلواکې ارزونې موارد پلې کړي:

- مونږ به له واکمنو چارواکو سره بشر حقونو ته د درناوي په برخه کې تعامل او له ځایي وګړو سره د سلا مشورو او همدارنګه په سیاسي تصمیم نیونه کې د دوی د ګډون زیاتولو لپاره لارې چارې ولټوو، ترڅو په دې توګه د افغانستان له ټولو شته سرچینو څخه د دې هېواد د وضعیت ښه والي لپاره کار واخیستل شي.
- مونږ به مالي تمویلوونکي (ډونران) دې ته وهڅوو ترڅو هغه برخې په ګوته کړي چې هلته دوی وکولای شي اوږدمهاله او پایداره مرسته وکړي، او په دې توګه مستقیماً افغانانو ته ګټه ورسوي. په دغو برخو کې د اقلیمي بدلون د اغېزو راکمولو، د کوکنارو د کښت بندیز د اغېزو راکمولو او له واکمنو چارواکو سره په ګډه همکارۍ په افغانستان کې د ماین پاکۍ د روانو فعالیتونو د ملاتړ اقدامات شامل دي.
- مونږ به د اساسي بشري اړتیاوو پوره کولو لپاره د لا زیاتې بودجې په برخه کې د مرستې غوښتنه وکړو ترڅو لا زیاته ټولنیزه او اقتصادي پیاوړتیا رامنځته شي. په اساسی خدمتونو کې مرسته د زیات شمېر زیان منونکو افغانانو لپاره چې اکثریت ګټه اخیستونکې یې مېرمنې دي، یوه حیاتي موضوع ده.
- مونږ به د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره د یو بنسټ په توګه په اقتصادي ثبات کې د مرستې لپاره اقدامات ترسره کړو، چې په مالي سکتور کې د یو مناسب او فعال چاپېریال پرته به یې ترسره کول ناشوني وي. بانکوالي او کوچني پورونه (مایکروفایننس) دوه هغه اساسي برخې دي چې مونږ یې باید پیاوړې کړو.
- د دوحې بنې راتلونکې غونډې لپاره به مونږ چمتووالی پیل کړو. راتلونکې غونډه باید عملي اجنډا ولري او واکمن چارواکي او همدارنګه نور افغان همکار شریکان هم باید په کې ګډون وکړي.

ښاغلی رئیس او د شورا غړو،

دا زمونږ کاري پلان دی، لکه څرنګه چې تاسو د یوناما ماموریت پر بیانوی کولو غور کوئ. زمونږ تمه دا ده چې روانې سلامشورې به بالاخره هغه پایلې ولري چې مونږ یې په لټه کې یو. زه له تاسو څخه په افغانستان کې د یوناما او په ټوله کې د ملګرو ملتونو د هڅو څخه د دوامداره ملاتړ ښودلو له کبله مننه کوم.

له تاسو مننه.

***